❖❖❖

# د اسلامي امارت بیاځلې واکمنۍ پر مهال د افغانستان د جیوپولیټیک وضعیت ارزونه

څېړندوی عمران زکریا*

څېړنوال عبدالصبور مبارز**

**لنډیز**

افغانستان د سیمې په کچه مهم جغرافیایي موقعیت لري، چې مرکزي آسیا له سوېلي آسیا او چین له منځني ختیځ سره نښلوي. جغرافیایي موقعیت د جیوپولیټیک بحث یو مهم فکتور دی او د اسلامي امارت له بیاځلې واکمنۍ وروسته اوسنی حکومت فکر کوي د افغانستان د جیوپولیټیک غوښتنه دا ده، چې سیمه‌ییز قدرتونه باید له پامه ونه غورځول شي. د دې څېړنې موخه له یوې خوا د نړۍ او په ځانګړي ډول د آسیا سیمه‌ییز وېش پېژندنه ده او له بلې خوا د تاریخي او معاصرو لیدونو په رڼا کې د افغانستان اسلامي امارت له بیاواکمنېدو وروسته د افغانستان د جیوپولیټیک وضعیت تحلیل دی. څېړنه د تېرو تاریخي پېښو او اوسنیو واقعیتونو په رڼا کې راسپړي چې اسلامي امارت څه ډول د جغرافیایي فکتورونو په پام کې نیولو سره خپله بهرنۍ پالیسي تنظیموي. د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې ایا د افغانستان اسلامي امارت به وکړای شي د افغانستان جیوپولټیک موقعیت ته په کتلو سره په نړیوالو اړیکو کې متوازن بهرنۍ سیاست تعقیب کړي؟ څېړنه د تشریحي- تحلیلي مېتود او د څېړنې د کتابتوني ډول له مخې ترسره شوې ده. موندنې ښیي، چې د افغانستان اسلامي امارت د بیاځلې واکمنۍ پرمهال د افغانستان جیوپولټیک موقعیت ته په کتلو او د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست په خپلولو سره سیمه‌ییزتوب ته مخه کړې او د سیمې له هېوادونو سره یې اړیکې پراخې شوې دي. په ورته وخت کې څېړنه کاږي، چې د متحده ایالاتو په اړه د اسلامي امارت سخت دریځ ښایي افغانستان د انزوا خوا ته یوسي او له دغې انزوا او اقتصادي ستونزو څخه د راوتلو په موخه یې ښایي لومړۍ چین او بیا روسیې او ایران ته میلان ډېر شي. د افغانستان په رسمیت نه پېژندنه، پر بهرنیو مرستو تکیه او د نړۍ او سیمې پېچلو شرایطو او سیالیو ته په کتلو به دا ستونزمنه وي چې اسلامي امارت دې متوازن بهرنۍ سیاست تعقیب کړای شي او اړتیا ده چې د بهرني سیاست دستګاه لا مسلکي شي.

**کلیدي کلمې:** سیمه‌ییز وېش، د افغانستان اسلامي امارت، جیوپولیټیک، جنوبي آسیا، جیوپولیټیک موقعیت.

---

* د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی

** د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی

**سریزه**

افغانستان په سیمه کې مهم جغرافیايي موقعیت لري چې د تاریخ په بېلابېلو دورو کې د سیمه‌ییز او نړیوال ښکېلاک د شومو موخو ښکار شوی دی. افغانستان د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې د تزاري روسیې او برتانوي هند ترمنځ د بفر یا حایل هېواد په توګه پېژندل کېده. د دغې جغرافیې ستراتیژیک اهمیت د لوی سکندر په وخت کې هم څرګند و، چې غوښتل یې د افغانستان له لارې هند ونیسي. افغانستان د ځانګړي جغرافیايي موقعیت په لرلو سره د آسیا څلورلارې په نوم شهرت لري، خو د تاریخ په اوږدو کې د جیوپولیټیک کمزوري مدیریت له امله او یا هم په لوی لاس د ښکېلاک له لوري انزوا ته وړل شوی، چې تر دې دمه پکې افغانانو د خپلې تاریخي جغرافیې د ګټو په پرتله زیانونه ډېر لیدلي دي.

د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت ته په کتو، د تاریخ په یوه اوږده دوره کې، د افغانستان جغرافیه د سترو قدرتونو ترمنځ د سیالیو ډګر پاتې شوې ده. د متحده ایالاتو له وتلو وروسته په افغانستان کې د قدرت تشه رامنځته شوه چې ښایي د سیمې سیالو قدرتونو ته د نفوذ زمینه برابره کړي. دا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیاواکمنېدو را په دېخوا افغانستان د سیمه‌ییزتوب پر لور روان دی، شوني ده چې د سیمې سیال قدرتونه یو ځل بیا په افغانستان کې د پښې اېښودو ځای پیدا کړي او خپلې جیوپولیټیکې سیالۍ پر مخ یوسي. که څه هم د افغانستان اسلامي امارت د اعلان شوي متوازن بهرني سیاست له مخې هڅه کوي د سیمې او نړۍ سیالو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن په پام کې ونیسي، خو دا چاره له یوې خوا کورنیو سیاستونو ته په کتو او له بلې خوا د سیمې او نړۍ پېچلو شرایطو ته کتو ستونزمنه برېښي. نو دا چې اسلامي امارت به وکړای شي د افغانستان جغرافیايي موقعیت ته په کتو د سیمې او نړۍ سترو او سیالو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي او که نه، د دې څېړنې مسله په ډاګه کوي. په ۲۰۲۱ ز.کال کې د اسلامي امارت بیاځلې واکمنېدو وروسته د افغانستان په جیوپولیټیک

کې نوي بدلونونه رامنځته شوي، چې د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست له مخې غواړي له بهرنیو هېوادونو سره په مساوي ډول اړیکې پراخې کړي. له دې کبله، افغانستان د سیمې هېوادونو ته نږدې شوی او همدارنګه د سیمه‌ییزو پروژو پلي کولو ته یې زمینه برابره کړې ده. دا چې دغه بدلونونه او د بهرني سیاست توازن خورا مهم دي، نو څېړل یې هم له اهمیت څخه ډک دي او اړتیا ده چې د اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت ته د متوازن بهرني سیاست د خوندیتوب په موخه ځانګړي وړاندیزونه وشي.

په جیوپولیتیک باندې د ښه پوهېدو لپاره په لومړي سر کې اړتیا ده چې د نړۍ په سیمه‌ییز وېش باندې ښه پوه شو، نو د دې څېړنې موخه د نړۍ پر سیمه‌ییز وېش د پوهاوي ترڅنګ د تاریخي او معاصرو لیدونو په رڼا کې د افغانستان اسلامي امارت له بیاواکمنېدو راهیسې د افغانستان جیوپولیتیک تحلیل دی، چې د بهرني سیاست توازن یې بنسټیزه برخه جوړوي. د بحث اصلي موضوع دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت د تېرو تاریخي پېښو او اوسنیو واقعیتونو په رڼا کې، د جغرافیایي فکتورونو په پام کې نیولو سره، بهرنۍ پالیسي څرنګه تنظیموي. د تاریخ په اوږدو کې، د افغانستان د بېلابېلو سیاسي نظامونو د حاکمیت پر مهال، د بې‌طرفه بهرني سیاست په چوکاټ کې متوازن بهرنی سیاست اعلان شوی، خو د مختلفو لاملونو له مخې د افغانستان مشران یا خو پر دې نه دي توانېدلي چې په ټوله معنا د افغانستان بې‌طرفي خوندي کړي او یا هم د سترو قدرتونو له لوري د افغانستان متوازن بهرني سیاست او بې‌طرفۍ ته درناوی نه دی شوی. په دې توګه د څېړنې پوښتنه داسې مطرح کېږي چې د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت ته په کتلو سره به ایا د افغانستان اسلامي امارت وکړای شي په نړیوالو اړیکو کې د بهرني سیاست توازن دوامداره وساتي؟ په دې څېړنه کې له تشریحي-تحلیلي مېتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د دې څېړنې جوړښت داسې دی چې په لومړي سر کې د نړۍ سیمه‌ییز وېش او د جیوپولیتیک لنډه پېژندنه شوې ده. د یادونې وړ ده چې د افغانستان تاریخي

جیوپولیټیک ترڅنګ په اوسمهال کې د اسلامي امارت له بیاځلې بریا وروسته د افغانستان جیوپولیټیک ته هم اشاره شوې ده. ورته مهال، د افغانستان اسلامي امارت په جیوپولیټیکو ننګونو، فرصتونو او همدارنګه په افغانستان کې د سترو قدرتونو ترمنځ د سیالیو بیاراګرځېدو په اندېښنو باندې تحلیلي بحث شوی. د مقالې په وروستیو کې پایله او وړاندیزونه هم ځای پر ځای شوي دي.

## 1. د څېړنې تیوریکي چوکاټ

پر دې موضوع د ښې پوهېدنې لپاره مو د هالفورډ مکېنډر د هارټلنډ له تیورۍ څخه د تحلیل او ارزونې په موخه ګټه اخیستې ده. دغه تیوري برتانوي جغرافیه پوه هالفورډ مکېندر په ۱۹۰۴ز. کال کې په خپله مقاله (The Geographical Pivot of History) کې وړاندې کړه. نوموړی د هارټلینډ تیورۍ په تشریح کې وایي: که هر چا په ختیځه اروپا تسلط ترلاسه کړ، نو هغه به هارټلنډ ترلاسه کړي او چا چې هارټلنډ ترلاسه کړ، هغه به پر نړیوالې جزیرې حاکم شي او څوک چې په نړیوالې جزیرې حاکم شو، نو هغه به پر ټوله نړۍ حاکم شي. (Margaret et al, 2008, PP. 2-3) مکېنډر د نړیوالې جزیرې اصطلاح افریقا، اروپا او آسیا ته استعمال کړې او د هارټلنډ سیمې ځلورخواوې یې داسې بیان کړي دي: هارټلنډ سیمه عبارت ده له لوېدیځ اړخ څخه د ولګا تر سیند[1] پورې، ختیځ طرف ته غربي سایبریا[2] پورې، شمال طرف ته تر شمالي منجمد اقیانوس[3] پورې او جنوب طرف تر منګولیا، چین، افغانستان، بلوچستان او ایران پورې. (Suradhuni Ghosh, P. 2) د دې تیورۍ له مخې افغانستان هم د هارټلنډ برخه ده، چې له امله یې د دغه هېواد د جغرافیایي موقعیت اهمیت نور هم زیات شوی او د تاریخ په اوږدو کې د لویو قدرتونو د سیالۍ پر ډګر بدل شوی دی. مکېنډر دا تیوري هغه مهال رامنځته کړه چې په مرکزي او جنوبي آسیا کې د برتانیې او

[1] Volga river
[2] East Siberian Sea
[3] Arctic Ocean

تزاري روسیې سیالۍ په اوج کې وې او هغه مهال افغانستان د دغه دوو امپراتوریو ترمنځ د بفر یا حایل په توګه پروت و او د افغان-انګلیس جګړې هم رامنځته شوې ( Mark Gilchrist, 2019) او له همدې امله مکینډر د هارټلنډ په تیورۍ کې افغانستان هم شامل کړ. نن هم لوی قدرتونه د مکینډر دغه تیوري له پامه نه غورځوي چې له امله یې افغانستان په معاصر وخت کې هم د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر پاتې شوی او په راتلونکي کې هم د دغه ډول سیالیو شونتیاوې شته. له همدې امله، په همدغه تیوریک چوکاټ کې مو لومړی د افغانستان تاریخي جیوپولیټیک ارزولی او بیا مو د افغانستان اسلامي امارت د بیاځلې واکمنۍ پرمهال د افغانستان په جیوپولټیک باندې تحلیلي بحث کړی دی.

په جیوپولیټیک کې د یوه هېواد د جغرافیایي فکټورونو پر بنسټ بهرني سیاستونه طرح کېږي، چې د دې تیوریکي بحث د لا ملاتړ په موخه دلته هڅه کېږي پر دې بحث وشي چې اسلامي امارت به څرنګه د افغانستان جغرافیوي فکټورونو په پام کې نیولو سره د سیمې او نړۍ سترو قدرتونو ترمنځ متوازن او اقتصاد محوره بهرنی سیاست طرح او عملي کړي، چې په راتلونکي کې د افغانستان ګټې لاپسې خوندي شي او ورته مهال افغانستان د جیوپولیټیکو سیالیو پر ځای په مثبتو جیواکونومیکو سیالیو بدل شي، چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ ته لاره پرانېستل شي او په راتلونکي کې د سیمه‌ییز ټرانزیټ پر مرکز بدل شي.

## 2. د نړۍ سیمه‌ییز وېش

نړۍ د ۵۱۰ میلیونه کیلومتره مربع مساحت په لرلو سره، ۱۴۹ میلیونه کیلومتره مربع وچه او پاتې ۳۶۱ میلیون کیلومتره مربع اوبه دي (سحاب، ۱۳۸۴ ص ۱۷). د ځمکې د وچې برخې د هر اړخیزې پېژندنې لپاره اړتیا ده چې ځمکه له بېلابېلو اړخونو ووېشل شي، چې جغرافیه پوهانو د ساحې، ګډې پولې او ځمکني موقعیت له مخې، ځمکه په لویو وچو؛ د تاریخ، کلتور او سیاسي اړخه په دولتونو او سیمو؛ اقتصاد پوهانو له

اقتصادي پلوه ځمکه په لوميړ، دویمه او درېیمه درجه نړۍ او یا هم په پرمختللو، مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو ویشلې ده. (Martin et al, 1997, P.4) پورتنی وېش د نړۍ پېژندنې د اسانۍ په موخه ترسره شوی دی.

د ارنولډ ټواینبي له نظره، یونانیانو د لومړي ځل لپاره ځمکه په دوه لویو وچو آسیا او اروپا ووېشله؛ آسیا او اروپا دواړه یوناني کلیمې دي، چې آسیا د لمر راختلو او اروپا د لمر پرېوتلو په معنا دي.( Martin W. Lewis and KÃren, 1997, PP. 214-223)

له پورتني وېش څخه نږدې موده وروسته، لیبیا (افریقا) درېیمه هغه لویه وچه وه چې پر لویو وچو د ځمکې وېش ته ورزیاته شوه. یعنې آسیا، اروپا او افریقا یوازینۍ هغه تاریخي لویې وچې دي چې له میلاد څخه پخوا رامنځته شوې دي. د شپاړسمې زېږدیزې پېړۍ په لومړیو کې امریکا او د شلمې پېړۍ په پیل سره پاتې نورې لویې وچې رامنځته شوې. په ۱۹۶۰مو کالونو کې پر لویو وچو د ځمکې وېش بشپړ شو او ځمکه پر اوو لویو وچو وویشل شوه: آسیا، اروپا، افریقا، جنوبي امریکا، شمالي امریکا، اقیانوسیه (استرالیا جمع نیوزیلاند) او انترکتیکا.(Ibid, P. 32)

د نړۍ اوسنی سیمه‌ییز وېش تر ډېره له دویمې نړیوالې جګړې وروسته رامنځته شوی، چې متحده ایالاتو هڅه پیل کړه په امریکایي پوهنتونونو کې د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکزونه جوړ کړي او په هغې کې بېلابېلې سیمې مطالعه او بیا یې په اړه حکومت ته پالیسي وړاندې کړي. په همدې تړاو د متحده ایالاتو د ټولنیزو علومو څېړنیز مرکز[1] فورډ بنسټ[2] د متحده ایالاتو فدرالي حکومت په مرسته په مهمو امریکایي پوهنتونونو کې د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکزونه رامنځته کړل. تر ۱۹۴۷ز. کال پورې د سیمه‌ییزو مطالعاتو څوارلس مرکزونه جوړ شول چې شپږ یې په لاتینې امریکا پورې، درې په روسیې او ختیځې اروپا پورې، څلور یې جاپان او چین پورې او یو د هند په مطالعاتو پورې اړه درلوده. د سیمه‌ییزو مطالعاتو

[1] Social Science Research Council
[2] Ford Foundation

مرکزونو د لا ښه تنظیم په موخه متحده ایالاتو په ۱۹۵۸ز.کال کې د ملي دفاع تعلیمي قانون[1] په نوم یو قانون رامنځته کړ، چې د دې قانون د شپږم څپرکي په رڼا کې د نړۍ سیمه‌ییز وېش رامنځته شو او نړۍ یې پر روسیه، لرې ختیځ، جنوب ختیځه آسیا، جنوبي آسیا، نږدې ختیځ، اروپا، افریقا، او لاتیني امریکا ووېشله، خو نږدې څو کاله وروسته په دې وېش کې یو څه بدلونونه راغلل او هغه دا چې روسیه په شوروي اتحاد بدله شوه، د ختیځې اروپا سیمه رامنځته شوه او نږدې ختیځ په منځني ختیځ بدل شو. ( Ibid, PP. 166-167)

که په ځانګړي ډول د آسیا سیمه‌ییز وېش ته راشو، ویلای شو چې نن ورځ آسیا پر جنوبي آسیا، مرکزي آسیا، منځني ختیځ (لویدیځه آسیا)، ختیځه آسیا، جنوب ختیځه آسیا او شمالي آسیا چې د روسیې د سایبریا برخه رانغاړي، ویشل شوې ده.

په پورتنیو سیمو کې افغانستان د جنوبي آسیا او مرکزي آسیا د هېوادونو له سیاستونو ډېر اغېزمنېږي چې له همدې امله د دغو دوه سیمو د رامنځته کېدو پر تاریخ پوهېدل اړین دي.

د اورټېلیوس په ۱۵۷۰ز.کال اطلس کې اوسنۍ جنوبي آسیا، ختیځه آسیا او جنوب ختیځه آسیا ته هند ویل شوی او د اوولسمې پېړۍ تر پایه دغه سیمې د هند په نوم یادېدې، یعنې دا درې سیمې یوه سیمه وه او نوم یې هند و. د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې هند یوازې په جنوبي آسیا او جنوب ختیځې آسیا پورې محدود شو او کله چې هند د برتانیې لاسته وغورځېد، نو بیا یوازې په اوسنۍ جنوبي آسیا پورې محدود شو، یعنې د اوسنۍ جنوبي آسیا سیمې ته هغه مهال هند ویل کېده.( Martin et al, P. 159)

هند په آسیا کې یو له تاریخي او پخوانیو هېوادونو څخه ګڼل کېږي او په بېلابېلو نومونو یاد شوی دی، لکه، بهارته ورشه، یونانیانو به ورته انډوس ویل، فارسیانو ورته هندوستان ویل،کله چې برتانویان دې سیمې ته راغلل، نو هغوي ورته انډیا نوم کېښود،

[1] National Defense Education Act

وروسته دا ټوله سیمه د هند نیمې وچې[1] په نوم او د شلمې پیړۍ په شپږمه لسیزه کې بیا دا سیمه د جنوبي آسیا په نوم ونومول شوه.( Narayanan, 2016.)

له سړې جګړې وروسته، کله چې شوروي اتحاد ټوټه شو، د اوسنۍ مرکزي آسیا د سیمې د رامنځته کېدو په اړه د شوروي او امریکایي پوهانو ترمنځ د نظر ټکر رامنځته شو. شوروي پوهانو دا سیمه په دوه برخو یعنې منځنۍ آسیا (ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، قرغزستان او قزاقستان) او مرکزي آسیا (د چین سینکیانګ، تبت او منګولیا) وویشله، خو امریکایي پوهانو په ځانګړې ډول روبرټ کېنفیلډ دې سیمې ته د لویې مرکزي آسیا[2] اصطلاح استعمال کړه او په دې سیمه کې یې ټول هغه هېوادونه شامل کړل چې په ترک قوم پورې اړه لري او دا سیمه له ترکیې څخه پیل او د چین تر سېنکیانګ او چینایي ترکستان پورې رسېږي؛ خو څه موده وروسته د مرکزي آسیا اصطلاح یوازې پنځو جمهوریتونو (ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، قرغزستان او قزاقستان) ته استعمال شوه او د چین اړونده سیمه د ختیځې آسیا په سیمې پورې وتړل شوه.( Ibid, P. 179) نن ورځ هم پورتنیو پنځو جمهوریتونو ته مرکزي آسیا ویل کېږي.

په جنوب ختیځه آسیا کې فلیپین، ویتنام، کمبوډیا، لاوس، میانمار، تایلینډ، مالیزیا، سنګاپور، بروني دارالسلام او اندونیزیا شامل دي. ختیځه آسیا کې تایوان، جاپان، جنوبي او شمالي کوریاګانې، چین او منګولیا شامل دي.

منځنې ختیځ کې ایران، عراق، کویټ، متحده عربي امارت، عمان، اردن، سعودي عربستان، بحرین، یمن، قطر، اسرائیل، فلسطین، لبنان، سوریه او قبرس شامل دي او په غربي آسیا کې روسیه او سایبریا شامل دي.

### 2.1. افغانستان په کومې سیمې پورې اړه لري؟

د آسیا په سیمه‌ییز وېش کې د افغانستان د ځای په اړه بېلابېل نظرونه شته؛ ځینې د

---
[1] Indian Subcontinent
[2] Greater Central Asia

مرکزي آسیا برخه ګڼي، ځینې د منځني ختیځ او ځینې نور یې بیا د جنوبي آسیا برخه ګڼي او ځینې بیا وايي چې افغانستان یو ځانګړی جغرافیایي موقعیت لري، خو د دوه دلایلو پر بنسټ ویلای شو چې افغانستان د جنوبي آسیا برخه ده. لومړی، د مرکزي آسیا او منځني ختیځ په پرتله په جنوبي آسیا کې پراته د دوه هېوادونو هند او پاکستان بهرنی سیاست او پرېکړې پر افغانستان مستقیمې اغېزې لري؛ دویم، د نړیوالو اسنادو په رڼا کې هم ویلای شو چې افغانستان د جنوبي آسیا برخه ده؛ د بېلګې په توګه، د سارک سازمان چې یوازې د جنوبي آسیا سیمه‌ییز سازمان دی، په خپل منشور کې وايي چې د جنوبي آسیا سیمه له افغانستان، هند، پاکستان، بنګله دېش، سریلانکا، مالدیف، بوتان او نیپال څخه تشکیل شوې ده. (Waseem, 2020, P. 20). همدارنګه، په ۲۰۰۰ز. کال کې، کانګرس ته د امریکا متحده ایالاتو د نوې پېړۍ لپاره د ملي امنیت ستراتیژي[1] وړاندې کړه، چې په دې ستراتیژۍ کې د جنوبي آسیا په اړه هم ځانګړې پالیسي موجوده وه او د جنوبي آسیا د سیمې په تعریف کې یې افغانستان هم شامل کړی و. (Muzaffar et al, 2018, P. 59) همدارنګه، د ملګرو ملتونو د بېلابېلو سازمانونو په پلانونو او پالیسیو کې هم افغانستان د جنوبي آسیا د سیمې برخه ګڼل شوې ده.

### 3. جیوپولیټیک پېژندنه

د جیوپولیټیک اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۹۹ز.کال کې د سویډني لیکوال روډولف شیلیین[2] له خوا رامنځته شوه. د نوموړي په وینا، جیوپولیټیک د یو هېواد پر بهرني سیاست د جغرافیوي فکټورونو اغېزه ده، چې د هېوادونو موقعیت، د سیمو ترمنځ واټن، د هېوادونو خاوره، اقلیم او طبیعي سرچینې پکې مهم رول لوبوي. (Saul, 2015, P. 24). په نننۍ بین المللي سیستم کې د جیوپولیټیک اصطلاح ډېره کارول کېږي، چې د هالفورډ مکېنډر، الفرډ تیر ماهان، نېکولاس سپایکمن او د جېمز برنهم نظریې پکې د

[1] A National Security Strategy For a New Century
[2] Rudolf Kjellen

پام وړ اهمیت لري. په ټوله کې، جیوپولیټیک د حکومتونو پر کړنو د جغرافیایي فکټورونو مطالعه ده.

جیوپولیټیک د انساني ټولنې او خلکو د ژوندانه مهمه برخه جوړوي. همدارنگه، جغرافیه د ملتونو د چلند د ډول په ټاکلو کې مهم رول لوبوي. د بېلگې په توگه، افغان ملت په ملي او بین المللي کچه، پر دې ټینگار کوي چې افغانستان د آسیا څلورلارې ده، مرکزي آسیا له جنوبي آسیا سره او ختیځه آسیا/چین له لوېدیځې آسیا سره نښلوي. دغه شان، عربي هېوادونه پر دې ویاړي چې د نړۍ د تېلو پراخې سرچینې لري او پر مټ یې بهرني سیاستونه طرح او تنظیموي او ځینې وختونه یې د بین المللي ټولنې پر وړاندې د فشار په توگه هم کاروي. د پروفیسور ساول کوهېن له نظره، جیوپولیټیک له یوې خوا د جغرافیایي ترتیباتو او لیدونو او له بلې خوا د سیاسي بهیرونو ترمنځ د تعامل تحلیل دی، دواړه جغرافیایي ترتیبات او سیاسي پروسې متحرکې دي او یو بل اغېزمنوي. د جرمني جغرافیه پوه فرېډرېک له نظره، دولتونه خپل حقیقي ځواک او هغه نفوذ چې په بین المللي سطحه یې عملي کوي، له هغې ځمکې ترلاسه کوي چې په واک کې لري. (James et al, 2022, PP. 1-2 )

له سړې جگړې وروسته د نوي نړیوال نظم د رامنځته کېدو هیلې راپورته شوې او وړاندوینه وشوه چې جیواکونومیک به د جیوپولیټیک ځایناستی شي، خو پېښو ژر ثابته کړه چې جغرافیې اوس هم خپل اهمیت ساتلی او ملتونه د قدرت او قلمرو لپاره مبارزه کوي. د فرانسېس سېمپا له نظره، جیوپولیټیک په یوه ځانگړې جغرافیه کې د دولتونو ترمنځ کړه وړه دي، چې په دې کې د هېواد مساحت، جغرافیوي موقعیت، نفوس، اقتصاد، ټېکنالوجي، نظامي قدرت او د حکومت جوړښت ځانگړی رول لوبوي. جغرافیه که څه هم ثابته ده، خو ښایي اغېزې د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي، پاتې نور فکټورونه په طبیعي ډول بدلون مومي. (Francis P. Sempa, 2002, PP. 5-6 )

## 4. د افغانستان تاریخي جیوپولیټیک

د ډېرو هېوادونو په بهرني سیاست کې بنکېل اړخونه د تصمیم نیونې پر مهال نه یوازې د سیمې او نړۍ شرایط په پام کې نیسي، بلکې د هېواد جغرافیایي موقعیت ته هم پاملرنه کوي، چې د بهرني سیاست په تدوین کې مهم رول لوبوي. افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی، چې په لوېدیځ کې د ایران او په جنوب کې د پاکستان له لارې سمندر ته د لاسرسي لارې لري. کله چې هالفورډ مکېنډر په ۱۹۰۴ز.کال کې د خپلې نظریې هارټلنډ له مخې د جیوپولیټیک مفهوم وړاندې کړ او همدارنګه په مرکزي آسیا کې د تېلو او ګازو زېرمې کشف شوې، د افغانستان اهمیت لاپسې لوړ شو. له بده مرغه چې افغانستان په شلمه پېړۍ کې د سړې جګړې قرباني شو، خو په یوویشتمه پېړۍ کې برېښنا، تېلو، ګاز او یو شمېر قیمتي ډبرو ته اړتیا ډېره شوه او افغانستان پکې ځانګړی ځای خپل کړ، چې مرکزي آسیا له جنوبي آسیا سره او ختیځه آسیا/چین له لوېدیځې آسیا سره نښلوي. (Amiri et al, 2023, PP. 177-178) د انګلیسي تاریخپوه ابډوارډ اینګرام په باور، د نولسمې پېړۍستره لوبه د انګلیس او روسیې د سیالۍ یوه برخه وه، چې د مرکزي آسیا دښتو او د افغانستان غرونو پکې نیابتي د فشار ټکي رامنځته کړل. (B.D. Hopkins, 2008, P. 35)

په نولسمه پېړۍ کې، کله چې د افغانستان ستره جغرافیه د برتانوي هند او تزاري روسیې په ستره لوبه کې ښکېله شوه، برتانوي هند د روسیې د نفوذ د مخنیوي په موخه د افغانستان شمال څخه جنوب ته د لویو لارو او رېل پټلۍ غځولو مخه نیوله او روسیې هم په خپل وار د افغانستان له جنوب څخه شمال ته د برتانوي هند د بېخبناوو جوړولو چارې ټکنۍ کولې، چې افغانستان دغه مهال د بفر په توګه رول لوباوه. که څه هم د وخت افغان واکمنان د ټرانسپورټي شبکو د پراختیا مخالف نه وو، خو باور داسې و چې دا به د دوی خپلواکي نقض کړي. (Keith, 1997, P. 85) په دې معنا، که د رېل پټلۍ په ګډون نورې ټرانسپورټي شبکې په افغانستان کې وغځېږي، بهرني ځواکونه به په

اسانۍ له یادو ټرانسپورټي شبکو په ګټې اخیستنې پر افغانستان یرغل وکړي. متیسن، بفر هېواد داسې تعریفوي چې دا یو کوچنی خپلواک هېواد وي او د دوو سترو سیالو قدرتونو ترمنځ پروت وي. د نولسمې پېړۍ د سترې لوبې پر مهال افغانستان د تزاري روسیې او برتانوي هند لپاره له جیوستراتیژیک پلوه ډېر مهم و. برتانوي هند هڅه کوله چې د افغانستان له لارې مرکزي آسیا ته ځان ورسوي؛ ورته مهال، روسیې هم غوښتل د افغانستان له جغرافیې څخه په ګټې اخیستنې د هند سمندر ته ځان ورسوي، خو روسیه په خپله هڅه کې ناکامه شوه.(Michael, 1983, PP. 4-12)

شلمه پېړۍ هم د افغانستان په اړه د سیالیو شاهده وه. له افغانستان سره د متحده ایالاتو جیوپولیټیکه ښکېلتیا د سړې جګړې دورې د یوې برخې په توګه پیل شوه چې په مرکزي او جنوبي آسیا کې له شوروي اتحاد سره سیالي وکړي. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته شوروي اتحاد او متحده ایالاتو په افغانستان کې خپله سیالي د لویو لارو په جوړولو سره څرګنده کړه چې شوروي پکې مخکښ و او تر یوه بریده یې افغانستان په وچې پورې له راایسارېدو خلاص کړ. په لندن پوهنتون کې د جغرافیې ډېپارټمنټ پروفیسور کېت مکلاچلان په خپله مقاله کې داسې یادونه کوي، چې سترو قدرتونو د سړکونو جوړولو له لارې د افغانانو د ګټو په پرتله خپل نظامي هدفونه ډېر تعقیبول. د یادونې وړ ده چې د دویمې نړیوالې جګړې او په ۱۹۴۷ز.کال کې د پاکستان په رامنځته کېدو سره، د بفر په توګه د افغانستان رول کمزوری شو او دغه حالت بیا د شوروي اتحاد له پوځي یرغل سره له منځه ولاړ.( McLachlan, 1997, PP. 86-94)

دا چې شوروي په افغانستان کې د امریکا ګټې ګواښلې، د شوروي او متحده ایالاتو ترمنځ سیالۍ ته یې زمینه برابره کړه. مجاهدینو د شوروي ځواکونه په افغانستان کې مات کړل چې په دې سره په فارس خلیج کې د تېلو د کنټرول په موخه د شوروي ګواښ له منځه ولاړ. متحده ایالاتو هغه مهال د افغانستان پر ځای خلیج ته مخه کړه او افغان مجاهدینو د متحده ایالاتو جیوپولیټیک ملاتړ له لاسه ورکړ، چې په افغانستان کې له

شوروي اتحاد څخه پاتې پوځي تجهیزات یې یو د بل پر وړاندې وکارول او افغانستان د کورنۍ جګړې ښکار شو. همدغو ګډوډیو په افغانستان کې د طالبانو اسلامي تحریک رامنځته کېدو ته زمینه برابره کړه. (Srinjoy et al, 2018, P. 2)

له تاریخي پلوه، د افغانستان کمزوري اقتصاد او په بهرنیو قدرتونو تکیې، په بېلابېلو دورو کې په هېواد باندې د سترو قدرتونو نفوذ او یرغل ته زمینه برابره کړې او بهرنۍ سیاست یې اغېزمن کړی دی. بارنېټ روبین ورته مسلې ته اشاره کوي چې د ډېرو پېړیو لپاره د افغانستان دولتونه کم توانېدلي له بهرنیو مرستو پرته دوام وکړي. د بېلګې په توګه، په منځنیو پېړیو کې افغان شاهانو لکه غوریانو او غزنویانو غوښتل په خپل قلمرو کې د سوداګرۍ او کرنې د پراختیا له لارې خپل قدرت زیات کړي او یا یې په نورو قلمروونو لکه هند، ایران او مرکزي آسیا کې د فتوحاتو له لارې پانګه ترلاسه او د قلمرو ساحه پراخه کړي. ورته لاره هوتکیانو په خپله لنډه موده کې او درانې شاهانو د حاکمیت په خپله اوږدمهاله دوره کې تعقیب کړه. کله چې برتانوي امپراتورۍ په هند او روسیې په مرکزي آسیا او ایران کې خپل نفوذ تاسیس کړ، په تدریجي ډول د افغان شاهانو دغه شونتیاوې محدودې شوې. (Rubin, 2020, PP. 41-42) د نولسمې او شلمې پېړۍ په اوږدو کې او همدارنګه د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې د یو شمېر نظامونو د نسکورېدو شاهدان وو، چې د بهرنیو مرستو او ملاتړ پرته نسکور شول. اسلامي امارت له بیاځلې واکمنېدو سره سم متوازن او اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست اعلان کړ، چې پر بهرنیو مرستو تکیه راکمه کړي.

د تاریخي متوازنې بهرنۍ پالیسۍ اړوند، امان الله خان د برتانیې فشار او د روسیې تاریخي جاه طلبۍ ته په کتو، د دوه فکتورونو له امله غوښتل متحده ایالاتو سره اړیکې پراخې کړي: لومړی، متحده ایالات له افغانستان څخه د پام وړ واټن لري، چې کولای شي له جغرافیایي نفوذ پرته له افغانستان سره مرسته وکړي. دویم، د امریکا متحده ایالاتو د استعمار شالید نه درلود. که څه هم متحده ایالاتو د ۱۹۲۱ز.کال د جولای پر ۲۶مه د

عبدالولي خان دروازي ماموريت ومانه او په نارسمي ډول يې د افغانستان خپلواکي هم ومنله، خو اړيکو د پام وړ پرمختګ ونکړ. ځيني افغانانو ګومان کاوه چې متحده ايالاتو د برتانيې په اشارې له امان الله خان سره مرسته نه کوله چې افغانستان د برتانيې د نفوذ له ساحې څخه و نه وځي. امان الله خان غوښتل چې له متحده ايالاتو څخه د مرستو په ترلاسه کولو سره افغانستان د انګرېز او روسيې له سياليو وباسي او معاصر پرمختګ تجربه کړي. متحده ايالاتو په رسمي ډول د افغانستان له خپلواکۍ څخه ملاتړ اعلان نه کړ او همدارنګه تر ۱۹۳۵ز.کال پورې رسمي ډيپلوماتيکې اړيکې هم رامنځته نه شوې. دغه حالت د امان الله خان رژيم لپاره د بهرنۍ پاليسۍ تشه رامنځته کړه او اړ شو چې له بل قدرت سره دوه اړخيزې اړيکې پراخې کړي. يوازينی هېواد چې کولای يې شو په دې برخه کې مرسته وکړي او برتانيې سره پرې سيالي وکړي، هغه شوروي اتحاد و، نو د مجبوريت له مخې امان الله خان شوروي اتحاد ته مخه کړه. (Amin, 2004, PP. 64-68)

له افغانستان سره د شوروي اتحاد اقتصادي او پوځي مرستو د افغان-انګليس پر اړيکو اغېزې وکړې. له يوه لوري يې برتانيه وهڅوله چې د افغانانو د بشپړې خپلواکۍ د غوښتنې پر وړاندې نرمښت وښيي؛ دا له دې وېرې چې که برتانيه په دې برخه کې ناکامه شي، امان الله خان به نور هم شوروي ته نږدې شي. له همدې امله خبرو اترو زور واخيست چې په پايله کې د افغان-انګليس ترمنځ د ۱۹۲۱ز.کال د نومبر تړون رامنځته شو. (Ludwig W. Adamec, 1967, PP. 183-188 ) له بل لوري، برتانيه د شوروي اتحاد او افغانستان اړيکو په انديښنه کې کړه چې د مسکو مرستو له لارې شوروي ښايي د افغانستان شمال تر خپل نفوذ لاندې راولي. (Amin, 2004, P.68) له دې سره سم، برتانوي چارواکو امان الله خان په شوروي باندې په تکيې تورن کړ. برتانويانو په خپل وار امان الله خان سم درک نه کړ، ځکه امان الله خان د متوازن او بې‌طرفه بهرني سياست له مخې غوښتل افغانستان پرمختګ تجربه کړي. امان الله خان غوښتل شوروي سره د نږدې کېدو له لارې لوېديځ هېوادونه هم دې ته وهڅوي چې افغانستان سره اړيکې

پراخې کړي. امان الله خان بیا هم هڅه وکړه چې برتانیې او متحده ایالاتو ته د متوازن او بې‌طرفه بهرني سیاست له لارې ځان نږدې کړي، خو کومه پایله یې ور نه کړه. ( Ludwig, 1967, P. 165) امان الله خان وروسته دا ومنله چې شوروي اتحاد سره په اړیکو کې توازن د افغانستان د بهرني سیاست یو بنسټیز اصل دی. د وخت د بهرنیو چارو وزارت معین او لیکوال عبدالصمد غوث له نظره، د امان الله خان نامتوازن بهرنی سیاست و، چې په ۱۹۲۹ز.کال کې د هغه حاکمیت ته په ناڅاپي ډول د پای ټکی کېښودل شو او په دې برخه کې د برتانیې رول څرګند و. (Ghaus, 1988, P. 47)

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته برتانوي امپراتوري له زوال سره مخامخ شوه او برتانیا ونشو کړای چې د بفر دولت په توګه د افغانستان تاریخي رول وساتي. له همدې امله، افغان حکومت له متحده ایالاتو وغوښتل چې دا مسولیت پر غاړه واخلي، خو متحده ایالاتو د دې باور له امله انکار وکړ چې افغانستان په ذاتي ډول ورته مهم نه دی. (William, 1980, P. 205)

داود خان په بهرني سیاست کې د بې‌طرفۍ د خوندیتوب ترڅنګ په لومړي سر کې د امریکا متحده ایالاتو ته مخه کړه چې پوځي مرستې ترلاسه کړي او د پښتونستان موضوع په عادلانه توګه حل کړي، خو متحده ایالاتو لېوالتیا و نه ښوده او داود خان ناهیلی شو. داود خان او نعیم خان دغه مهال د مرستو د ترلاسه کولو په موخه مسکو ته ګرځېدل اړین وګڼل چې د شوروي کارت وکاروي. په اصل کې، د داود خان بې‌طرفه بهرنی سیاست د متحده ایالاتو له تګلارې سره په ټکر کې و، چې په نړیواله کچه یې یوازې د شوروي ضد دریځ لرونکو هېوادونو څخه ملاتړ کاوه او مرستې به یې ورسره کولې. په دغسې حالت کې داود خان هم لکه د امان الله خان په څېر ورته برخلیک سره مخامخ شو. (Meredith, 2007, P. 97)

د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې، د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان اسلامي امارت له پامه وغورځاوه. ورته مهال، د اسلامي امارت له لوري د اسامه بن لادن نه

سپارل، متحده ایالاتو د خپل ځان او متحدینو لپاره لویه ننگونه گڼله، چې په ۲۰۰۱ ز.کال کې متحده ایالاتو د افغانستان گاونډیانو او د سیمې هېوادونو په مرسته پر افغانستان پوځي برید وکړ او یادو هېوادونو له متحده ایالاتو سره استخباراتي معلومات شریک او لوجستیکي مرستې وکړې. نړیوالې ټولنې په ځانگړي ډول متحده ایالاتو په افغانستان کې د ډېموکراتیکو اصولو پر بنسټ د دولت جوړونې هڅې پیل کړې او په دولتي او خصوصي سکټور کې د ښځو ونډه پراخه شوه. (Snider, 2022, PP.402-408)

د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پوځي بریدونو پر مهال، په تدریجي ډول بېلابېلو لاملونو د اسلامي امارت بیاراپورته کېدو ته زمینه برابره کړه. د هندي لیکوال لوپامودرا باندیوپادیای په باور، د لوېدیځو قدرتونو او حامد کرزي لومړۍ سهوه له بن کنفرانس څخه د طالبانو ایستل او د حکومت په اډانه کې په کورنۍ جگړه کې د ښکېلو ځېرو ځای پر ځای کول وو. په افغانستان کې مو د شوروي له ماتې دا زده کړل چې هېڅ قدرت باید په افغانستان کې پوځي مداخله ونه کړي. د امریکا متحده ایالاتو او بین المللي ټولنې کولای شول چې له قدرت څخه د طالبانو د لرې کېدو په موخه له پوځي مداخلې پرته نورې لارې چارې لټولې وای، خو کله یې چې پوځي لاره غوره کړه، نو د شوروي اتحاد پر سرنوشت اخته شول. لیکوال زیاتوي، که د پخوانیو طالبانو ریښه په بشپړ ډول له منځه وړل شوې وای، بیا هم په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون د نویو جنگیالیو رامنځته کېدو ته زمینه برابروله. (Lopamudra, 2020, P. 52)

د ۲۰۲۱ ز.کال د اگست پر ۱۵مه، په افغانستان کې د لوېدیځ پر ملاتړ د حکومت ناڅاپي ړنگېدل او د پاتې امریکایي پوځیانو چټک وتلو، د متحده ایالاتو په تاریخ کې تر ټولو اوږد پوځي ماموریت پای ته ورساوه (۷ اکتوبر ۲۰۰۱ – ۱۵ اگست ۲۰۲۱). (Joshua, 2022, PP.408-410) په تېرو دوو لسیزو کې، افغانستان له سیاسي، امنیتي او اقتصادي پلوه په امریکا متحده ایالاتو او ناټو غړو هېوادونو تکیه و، چې بهرنی سیاست

یې له ښکېلو غاړو څخه اغېزمن و. د بارنېټ روبین له نظره، افغانستان له ۱۹۳۰ نه د ۱۹۷۰ مې لسیزې تر وروستیو کلونو پورې ثبات تجربه کاوه، دا ځکه چې د افغانستان د ملاتړ په اړه نړیواله اجماع موجوده وه. د دغو لسیزو په لومړیو کې برتانیې او بیا متحده ایالاتو له شوروي اتحاد سره هوکړې کړې وې، چې د افغانستان په چارو کې به لاسوهنې نه کوي. له ۱۹۲۹ز.کال را په دېخوا افغانستان د یوې کورنۍ له لوري مدیریت کېده چې په سیاست کې محدودیتونو باندې ښه پوهېدل. د نوموړي له نظره، په تېرو شلو کلونو کې (۲۰۰۱-۲۰۲۱)، د افغانستان ثبات پر وړاندې دوه بنسټیز خنډونه وو: لومړی، ډېر شمېر نړیوالو لوبغاړو په افغانستان کې خپلې ګټې تعقیبولې؛ دویم، په هېواد کې مېشتې ټولې ډلې په وسلو باندې سمبالې وې چې غوښتل یې د واک پر سر جګړه وکړي. (Rubin, 2020, PP. 46-47) دمګړۍ د اسلامي امارت د بیاځلې واکمنۍ پرمهال، سره له دې چې ځینې ستونزې موجودې دي، خو د شته ثبات او امنیت یو بنسټیز دلیل دا دی چې یو واحد او تر یو امر لاندې نظام موجود دی او همدارنګه د سیمې هېوادونه هم اوسمهال د افغانستان په اړه واحد دریځ ته نږدې کېدونکي دي چې باثباته افغانستان د ټولې سیمې په ګټه دی.

## 5. د اسلامي امارت له بیاځلې بریا وروسته د افغانستان جیوپولیټیک

په افغانستان کې د اسلامي امارت بیاځلې واکمنېدو سره د افغانستان او سیمې جیوپولیټیک بدلون موندلی دی. دا په دې معنا چې روسیه، چین، ایران، پاکستان او همدارنګه د مرکزي آسیا جمهوریتونه، په افغانستان کې طالبان د یو واقعیت په توګه مني او له اسلامي امارت سره تعامل نه یوازې د خپلو ملي ګټو، بلکې د سیمه‌ییزو ګټو لپاره اړتیا ګڼي. که څه هم اسلامي امارت په خپله لومړۍ دوره کې د بهرنیو اړیکو له پراختیا سره ډېره لېوالتیا نه لرله، خو دا ځل غواړي چې له لوېدیځ، روسیې او ګاونډیو هېوادونو سره خپلې اړیکې پراخې کړي. له جیوپولیټیک پلوه، د افغانستان په اړه د روسیې په تګلاره کې عملي بدلون ترسترګو کېږي. روسیې لکه د یو شمېر نورو هېوادونو په څېر

په کابل کې ډیپلوماتیک ماموریت پرانېستي پرېښی دی او د بېلابېلو سیمه‌ییزو نوښتونو لکه مسکو فارمټ او شانگهای همکارۍ سازمان له لارې هڅې کوي اسلامي امارت له سیاسي انزوا څخه وژغوري؛ خو ورته مهال، په افغانستان کې د لوی ځواک سیالیو له بېرته راستنېدو اندېښنې هم لري چې کولای شي د روسیې سیمه‌ییزې گټې وگواښي.

افغانستان سره د روسیې په اړیکو کې تر ټولو مهم لومړیتوب امنیت دی چې په سیمه کې د روسیې له جیوپولیټیک چلند سره د پام وړ اړیکه لري او هڅه کوي د یوه مهم لوبغاړي په توگه رول ولوبوي. افغانستان د مرکزي آسیا لپاره دروازه ده، دا چې روسیه د مرکزي آسیا امنیتي مجموعه کې یوازینی قدرت دی، نو په مرکزي آسیا کې د پوځي اډو د شتون له لارې دوه موخې تعقیبوي: لومړی، روسیه هڅه کوي مرکزي آسیا ته د ناامنۍ د انتقال مخه ونیسي؛ دویم، کله نا کله یادې اندېښنې پلمه کوي او په مرکزي آسیا کې خپل امنیتي شتون پیاوړی کوي.

په تېر کې، د کابل او اسلام‌آباد ترمنځ د باور نشتوالي د پاکستان جیوپولیټیکې محاسبې د اړیکو په برخه کې مهمه ونډه لوبولې. کله چې اسلام‌آباد په کابل کې د نوي ډیلي زیاتېدونکي نفوذ په اړه په اندېښنه کې شوی، هڅه یې کړې د حاکم رژیم په مخالفت کې له داسې چا ملاتړ وکړي چې پاکستان یې له خپلو گټو سره مناسب گڼي. افغانستان په وچې پورې تړلی دی، د دې لپاره چې پر پاکستان خپله تکیه راکمه کړي، ایران سره یې سوداگري زیاته کړې او هند سره یې اړیکې پراخې کړې دي. ورته مهال، پاکستان د افغانستان په اړه په پاکستان کې مېشت کډوال هم د فشار د وسیلې په توگه کاروي. د بدلېدونکو جیوپولیټیکو شرایطو لاندې، پاکستان د دغه ډول کړنو له لارې په لوی لاس افغانستان د هند لوري ته ټېل وهي او افغانستان هم د مجبوریت له مخې، د سیمه‌ییز سیال په توگه هند ته مخه کوي، چې دا جیوپولیټیکو سیالیو ته لاره خلاصوي. (Stuti et al, 2020, PP. 15-16) له اوسنیو شرایطو جوتېږي چې د سوداگرۍ په برخه کې د پاکستان په اړه د اسلامي امارت بهرنۍ پالیسي د محمد اشرف غني د وخت د

بهرنۍ پالیسۍ سره ورته ده. دا چې اشرف غني پاکستان په مستقیم ډول د افغانستان په جګړه کې ښکېل ګاڼه او پاکستان ډېرې وختونه د سوداګریزو لارو په برخه کې په افغانستان باندې فشار راوړه، نو ځکه د پاکستان په بدل کې له ایران او د مرکزي آسیا جمهوریتونو سره بدیله سوداګري پراخه کړه. ورته مهال، د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان اړیکې ترینګلې دي او پاکستان لکه د تېر په څېر اوس هم د سوداګرۍ په برخه کې د سیاسي موخو لپاره په افغانستان باندې فشار راوړي او سوداګریزې لارې بندوي، نو اسلامي امارت له ایران او د مرکزي آسیا له جمهوریتونو سره د سوداګرۍ د پراختیا په برخه کې هڅې کوي چې سیمه‌ییز ټرانزیټ ته پاملرنه زیاته شوې ده.

لکه څرنګه چې په افغانستان باندې د شوروي یرغل د سیمې جیوپولیټیک بدل کړ، داسې چې متحده ایالاتو په خپلې بهرنۍ پالیسۍ کې بدلون راوست او له شوروي سره په مخالفت کې چین سره یې اړیکې نرمې او پراخې کړې. (William, 1980, P. 215) دغه شان اسلامي امارت سره د هند وروستۍ ډیپلوماتیکې اړیکې او هڅې، په سیمه‌ییز جیوپولیټیک واقعیت کې د پام وړ بدلون هم په نښه کوي. هند د جمهوریت پر مهال، د هېواد په بېلابېلو پروژو لکه د امنیتي ځواکونو روزنې، ښوونې او روزنې، لوړو زده‌کړو او همدارنګه بېلابېلو دولتي ودانیو جوړولو کې پراخه ونډه او نفوذ درلود. په هېواد کې له وروستي سیاسي بدلون وروسته، هند ځان یوې څنډې ته کړی، خو په دې وروستیو کې دا چې چین، روسیه، ایران، پاکستان او د سیمې نور هېوادونه افغانستان ته نږدې شوي، د هند لپاره یې نوې اندېښنې راپورته کړې دي، چې د اوسنیو جیوپولیټیکو واقعیتونو له مخې افغانستان ته نږدې کېدل اړتیا ګڼي. ورته مهال، دا چې اسلامي امارت په سیمه کې هند د یوه مهم اقتصادي قدرت په توګه ګڼي، هند سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو پراختیا ته لېواله دی. له همدې امله، په افغانستان کې د هند پخوانی سفیر جیانت پراساد په اوسنیو شرایطو کې اسلامي امارت سره د هند د نږدېوالي په اړه له احتیاط څخه یادونه کوي. هغه وایي، په تېرو درېیو کلونو کې، هند د بهرنیو ډیپلوماتانو

له لارې له اسلامي امارت سره اړیکه ساتلې ده. هند په ۱۹۹۰مه لسیزه کې د کورنۍ جګړې پر مهال په افغانستان کې خپلې قونسلګرۍ وتړلې او په ۲۰۰۲ ز.کال کې یې د جګړې له پای ته رسېدو وروسته بېرته پرانېستلې. هغه وایي "موږ نه غواړو دا وقفه بیا رامنځته شي، ځکه مو وغوښتل چې ښکېل شو، دا په ساده ډول په اړیکو کې یو ګام دی". (Soutik, 2025)

له کابل سره د عادي اړیکو په لور د نوي ډیلي ورو خو مشخص خوځښت د برصغیر تلپاتې جیوپولیټیک واقعیت په ګوته کوي. د هند اېکسپرېس ورځپاڼې د سرمقالې له مخې، "په کابل کې د رژیم د ماهیت په پام کې نیولو پرته -شاهي، کمونېست، یا اسلامي-د ډیلي او کابل ترمنځ طبیعي صمیمیت شته."(*The Indian Express, 2025* )

**6. د افغانستان اسلامي امارت جیوپولیټیکي ننګونې**

له توکمیز پلوه، افغانستان د بېلابېلو قومونو ګډ کور دی. په تېرو دوو لسیزو کې د قدرت وېش نه یوازې دا چې عادلانه نه و، بلکې مسلکي هم نه و. د افغانستان اوسنی جیوپولیټیک دا ایجابوي چې د بېلابېلو قومونو مسلکي او وړ اشخاص په عادلانه وېش کې شامل شي، دا کولای شي د افغانستان اوږدمهاله ثبات تضمین کړي. ورته مهال، دغې مسلې ته په هند کې مېشت هندي څېړونکی کبیر تنیجا داسې اشاره کوي، چې طالبان لومړی یو اېډیولوژیک غورځنګ دی او په دویم ځای کې د نړیوالې حکومتولۍ له مخې دولت دی. لومړی یې د خپل شتون لپاره لنګر دی او وروستی یې یوازې د عملي موخو لپاره وسیله ده. د تنیجا په باور، د نړیوالو جیوپولیټیکو بدلونونو د چټکو خوځښتونو سره، طالبان په یوه قوي درځ کې دي، خو د دوی تر ټولو لوی خنډ د دوی اوږدمهاله داخلي قومي او سیاسي وېشونه دي. (Kabir, 2023)

د مدون بهرني سیاست نه شتون د هېواد جیوپولیټیک ننګوي، د نړیوالو د کمې پاملرنې لامل ګرځي او همدارنګه بهرنی سیاست ناڅرګند برېښي، چې په اړه یې باید پراخې څېړنې ترسره شي او نیمګړتیاوې په نښه شي. تېرو تجربو ته په کتو، بېلابېلو

حاکمانو په خپل وخت کې بې‌طرفه بهرنۍ سیاست اعلان کړی، خو د مسلکي کادرونو د نشتوالي له امله پر دې نه دي توانېدلي چې د افغانستان بې‌طرفي خوندي کړي، یا دا چې سترو سیمه‌ییزو او نړیوالو قدرتونو د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره د افغانستان بې‌طرفي تر پښو لاندې کړې او افغانستان یې د اوږدمهال لپاره له بدبختیو سره مخ کړی دی.

د متحده ایالاتو له وتلو وروسته، چین په افغانستان او سیمه کې د خپل نفوذ د پراختیا هڅې کوي. دمګړی په افغانستان کې د چین لومړیتوب ښايي امنیتي وي، خو ورته مهال اسلامي امارت هڅه کوي د اقتصادي پرمختګ په موخه د چین پانګونې ترلاسه کړي. که هر لوری په ځانته ډول د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په هڅه کې وي، ښايي دغه ملګرتیا ډېر دوام ونه کړي، نو په اوږدمهال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ستراتیژیکې ملګرتیا ته اړتیا ده چې له یوه لوري د چین امنیتي اندېښنې په پام کې ونیول شي او له بله اړخه د افغانستان اقتصادي پرمختګ لپاره کار وشي. (Zakeria, 2024, PP. 1-2)

ورته مهال، په اوسنیو شرایطو کې افغانستان سیمه‌ییزو همکاریو ته اړتیا لري چې د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندنه د دغې پروسې پر وړاندې ستر خنډ دی. همدارنګه د سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا په موخه اړتیا ده چې افغانستان ته د سیمه‌ییزو همکاریو په سازمانونو لکه د شانګهای همکارۍ سازمان کې بشپړ غړیتوب ورکړل شي، چې په لومړي سر کې افغانستان باید په رسمیت وپېژندل شي.

داسې اندېښنې شته چې سیمه‌ییز جیوپولیتیک واقعیتونه لکه د تېر په څېر یو ځل بیا له پامه وغورځول شي. دا په دې معنا، که څه هم دولت جوړونه یوه داخلي پروسه ده، خو په ځینو هېوادونو کې دغه پروسه بهرنی اړخ لري چې د یوه بهرني قدرت د مداخلې له امله دولت جوړونه رامنځته کېږي. په تېرو دوو لسیزو کې د دولت جوړونې له بهرنیو هڅو څخه ځانګړی درس اخیستلای شو. د بېلګې په توګه، امریکا متحده ایالات چې په امنیتي سکټور کې ډېر ښکېل و، د افغانستان سرحدي سیمو جیوپولیتیکو ډینامیکونو

ته يې د اړتيا وړ پاملرنه ونه‌کړه. د تاريخ په اوږدو کې، افغانستان په اسانۍ له خپلو گاونډيانو اغېزمن شوی دی. متحده ايالات او ناټو د افغانستان په ډېموکراتيک کولو، بيارغونې او د افغانستان بېلابېلو بنسټونو جوړولو کې بوخت وو، چې په افغانستان کې يې د پاکستان او هند سيالي او جگړه له پامه غورځولې وه. هغه مهال، سيمه‌ييزو لوبغاړو لکه ايران، روسيې او چين له اسلامي امارت سره اړيکې جوړولې او دا هغه څه وو چې اسلامي امارت يې د يوه سياسي واقعيت په توگه ومانه. (Zahid et all, 2022) دا چې هند او پاکستان په سيمه کې دوه حساس سيال قدرتونه دي، له هند سره د افغانستان اسلامي امارت نږدې کېدل شايي د افغانستان لپاره يوه لاسته‌راوړنه وي، خو شايي متوازن بهرنی سياست زيانمن کړي او داسې اندېښنې شته چې پاکستان يو ځل بيا هڅه کوي په افغانستان کې د هند د نفوذ مخه ونيسي.

### 7. د افغانستان اسلامي امارت جيوپوليټيک فرصتونه

د متحده ايالاتو له وتلو او د اسلامي امارت بياځلې واکمنېدو وروسته، د افغانستان له لارې د سيمه‌ييزو پروژو د تطبيق بحث چټک شوی دی. داسې ښکاري چې په اوسنيو شرايطو کې د افغانستان جيوپوليټيک په سيمه‌ييز اتصال کې مطرح شوی دی. له سړې جگړې وروسته افغانستان د آسيا څلورلارې په توگه رول لوبوي. د نن ورځې جيوپوليټيک د نويو لارو د پرانېستو غوښتنه کوي. (Ijaz Khan, 1998, PP. 495-499) جيوپوليټيکو واقعيتونو ته په کتلو، پخوانی واقعيت او باور داسې و، چې روسيې هڅه کوله د مرکزي آسيا انرژي د روسيې له لارې اروپا ته ولېږدوي. ورته مهال، په تېرو دوو لسيزو کې، کله چې متحده ايالاتو په افغانستان کې پوځي شتون درلود، متحده ايالاتو هڅه کوله چې له سياسي او اقتصادي پلوه د مرکزي آسيا جمهوريتونو تکيه پر روسيې راکمه کړي، نو ځکه يو شمېر سيمه‌ييزې پروژې لکه ټاپي چې لا له پخوا اعلان شوې وه، د افغانستان له لارې عملي کړي، خو روسيې او ايران يې پر وړاندې خنډونه جوړول. که څه هم د اسلامي امارت له راتگ وروسته گومان داسې و، چې افغانستان به د آسيا

څلورلارې په توګه خپل ارزښت ورو ورو له لاسه ورکړي، خو د اوکراین جګړې د سیمې جیوپولیټیک بدل کړ او افغانستان یو بل فرصت ترلاسه کړ.

په اوکراین کې د جګړې له امله رامنځته شوی د انرژۍ جیوپولیټیک د مسکو ستراتیژیک زیانونه په ګوته کوي، چې روسیه د لویدیځ د انرژۍ پر بازارونو تکیه لري. روسیې لا دمخه آسیا ته مخه کړې، چې جنوبي آسیا د روسیې د انرژۍ سکټور لپاره نوي فرصتونه چمتو کوي. (Russia's Multipronged Policy in Afghanistan, 2021) د اوکراین جګړې له امله پر روسیې د متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې بندیزونه وضع شول، خو روسیې یو ځل بیا لکه د شلمې پېړۍ د نویمې لسیزې په څېر چې له متحده ایالاتو یې تمه وشکېده او آسیا ته یې مخه کړه، دغه راز د اوکراین کړکېچ وروسته، روسیې یو ځل بیا آسیا ته په ځانګړي ډول جنوبي آسیا ته مخه کړې ده، چې د افغانستان له لارې د ټرانس-افغان رېل پټلۍ په ګډون د ټاپي پروژې د تطبیق لپاره هڅې کوي؛ نو د اسلامي امارت لپاره غوره فرصت دی چې له شته فرصتونه ګټه واخلي او د سیمه‌ییز اتصال لپاره هڅې ګړندۍ کړي.

د هند اېکسپرېس ورځپاڼې د سرمقالې له مخې، که څه هم د جیوپولټیک منطق له مخې نوی ډیلي کابل ته نږدې کېږي، خو د هند لپاره مهمه اندېښنه د اسلامي امارت کورنۍ چلند دی. هندیان پر دې باور دي چې که څه هم هند د افغانستان داخلي سیاست د بدلولو واک نه لري، خو واقعیت دا دی چې نوی ډېلي باید په کابل کې له هر هغه حکومت سره تعامل وکړي چې په واک کې وي. دا چې په دوبۍ کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیر خان متقي او د هند د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین ترمنځ ناسته وشوه، دا یو فرصت دی چې هند کولی شي د متحده عربي اماراتو او نورو منځلارو عربي هېوادونو سره په افغانستان کې د مثبتو بدلونونو د هڅولو لپاره کار وکړي. (The Indian Express, 2025) نو اسلامي امارت کولای شي چې له نورو هېوادونو لکه هند سره د اړیکو جوړولو په موخه د قطر او عربي متحده اماراتو په

ښېر هېوادونو څخه د منځګړو هېوادونو په توګه کار واخلي. د افغانستان اسلامي امارت د چین مشرتابه ته د مهم اقتصادي او سیاسي ملاتړ په سترګه ګوري. چین یو سوله‌ییز او باثباته افغانستان د خپلو سیاسي، اقتصادي او ستراتېژیکو ګټو لپاره اړین ګڼي. که اسلامي امارت خپله بهرنۍ تګلاره په اقتصادي اصولو برابروي، کولای شي چې په اقتصادي برخه کې د چین د شلمې پېړۍ د خلاصو دروازو د پالیسۍ تقلید وکړي او همدارنګه د عربي متحده اماراتو په ښېر بهرنۍ پانګونه راجلب کړي. له چین سره د نږدیوالي له امله، اسلامي امارت باید د متوازن بهرني سیاست په ساتلو سره له سیمه‌ییزو فرصتونو ګټه پورته کړي. (Imran Zakeria, 2023)

### 8. د سترو قدرتونو ترمنځ د سیالیو بیاراګرځېدو اندېښنې

د سیمې جیوپولیټیک ته په کتلو، د متحده ایالاتو وتلو په افغانستان کې د قدرت تشه رامنځته کړه، چې د چین او هند سیالیو ته یې نوی چاپېریال پرانېستی دی او هر یو هڅه کوي په افغانستان کې له نوې رهبرۍ سره اړیکې پراخې کړي. اوسمهال، افغانستان او د مرکزي آسیا سیمه، د هایډروکاربن او نورو طبیعي زېرمو له امله نوې ستره لوبه مشاهده کوي. ځینې هندي څېړونکي پر دې باور دي چې چین او هند د دغې نوې سترې لوبې مهم لوبغاړي دي، چې چین غواړي په خپل مرکزیت سره آسیا رامنځته کړي، په داسې حال کې چې هند غواړي څو اړخیزه آسیا رامنځته کړي او د هند په ګډون نور لوبغاړي هم پکې ونډه ولوبوي. د هندي ستراتیژي جوړوونکو له نظره، چین په افغانستان کې پراخېدونکې ونډه لري، نو د هند حکومت ته هم اړینه ده چې له اوسني حاکم نظام سره اړیکې پراخې کړي. د نړۍ ځواک موازنه د آسیا پر لور روانه ده چې د هندیانو په باور په سیمه کې د چین نفوذ د هند پر وړاندې جیوستراتیژیک ګواښ دی، په داسې حال کې چې هند ټوله سیمه او په ځانګړي ډول افغانستان د خپلو ګټو لپاره جیوستراتیژیک چاپېریال ګڼي. د دې لپاره چې هند خپل سیمه‌ییز قدرت خوندي وساتي او وکولای شي د ګواښ مخه ونیسي او یا هم د ګواښ کچه راکمه او اقتصادي

ګتې خوندي کړي، وړاندیز کوي چې هند دې په افغانستان کې ښکېل شي او ډیپلوماتیکې مذاکرې دې پر مخ یوسي او پر خپلو ګټو او اندېښنو دې تمرکز وکړي. (Muneeb, 2023, PP. 344-355) خو واقعیت دا دی چې چین نه غواړي په افغانستان کې سیالي وکړي او بله دا چې چین د هند په پرتله ستر سیمه‌ییز قدرت دی، نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي په افغانستان کې د هر ډول سیالیو د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي.

د روسانو په ګډون، د سیمې هېوادونه پر دې باور دي چې که افغانستان یو ځل بیا په جګړه کې ښکېل شي، له یوه لوري به د افغانستان اقتصاد کمزوری شي او له بل لوري به په افغانستان کې بېلابېلې ډلې چې د سیمې هېوادونه ترې اندېښنې لري، نفوذ وکړي او د افغانستان ګاونډیان او همدارنګه د سیمې هېوادونه به ناامنه کړي، نو ځکه روسیه او نور سیمه‌ییز لوبغاړي نه غواړي افغانستان په یوه بله جګړه کې ښکېل شي. (Vanda, 2024) که په راتلونکي کې د افغانستان او لوېدیځ ترمنځ اړیکې جوړې نه شي، ښایي افغانستان او روسیه لاپسې نږدې شي، خو اسلامي امارت له احتیاط کار اخلي چې متوازن بهرنۍ سیاست یې زیانمن نه شي، خو د دغسې حالت خوندیتوب به ستونزمن وي.د امریکایي لیکوال بارنېټ روبین په باور، د بې‌ثباتۍ لپاره ښایي ډېر لاملونه وي، خو د ثبات لپاره یو لامل شته او هغه دا چې لږ تر لږه هېڅ سیمه‌ییز یا نړیوال قدرت چې د افغانستان د بې‌ثباته کولو وړتیا ولري، په افغانستان کې سیاسي او امنیتي ثبات ته د ګواښ په سترګه ونه ګوري. (Rubin, 2020, PP. 11-12) دا چاره د دولتونو ترمنځ نړیوالې همغږۍ او همدارنګه خپله د افغانانو ترمنځ جوړجاړي ته اړتیا لري.

### 9. پایله

که څه هم افغانستان د تاریخ په بېلابېلو دورو کې د سترو قدرتونو ترمنځ په شخړو او جیوپولیټیکو سیالیو کې خپله بې‌طرفي خوندي کړې، خو سترو قدرتونو د افغانستان بې‌طرفۍ ته درناوی نه دی کړی، چې په دې چاره کې یوازې نړیوال نه، بلکې د

افغانستان تېر واکمنان هم گرم دي. د افغانستان د وخت ځینو واکمنانو د افغانستان جغرافیوي موقعیت ته په پام، د سیمې او نړۍ له پېچلو شرایطو سره سطحي چلند کړی، هغوی یوه لوري ته د تمایل پایلې دقیقې نه دي سنجولې او د ایډیولوژیکي تمایلاتو او یا هم کمزوري اقتصادي وضعیت له امله یو ستر سیمهییز یا نړیوال قدرت ته پرته له دې چې راتلونکې پایلې وسنجوي، نږدې شوي او د افغانستان لپاره یې اوږدمهاله ناخوالې رامنځته کړې دي. تېرو تاریخي پېښو ته په کتو، د افغانستان اسلامي امارت بیاځلې واکمنېدو سره متوازن او اقتصاد محوره بهرنی سیاست اعلان کړی چې باید خوندي شي او دوام ومومي، خو د سیمې پېچلو شرایطو ته په کتو او د مسلکي کادرونو د کمښت له امله به د دغه ډول بهرني سیاست خوندیتوب ستونزمن وي.

له جیوپولیټیک پلوه، د افغانستان په اړه راتلونکې سناریو داسې په ډاگه کوي، چې د اسلامي امارت له نرمو سیاستونو پرته به لوېدیځه نړۍ په ځانگړي ډول د امریکا متحده ایالات په اوږدمهال کې اسلامي امارت په رسمیت ونه پېژني. د افغانستان اسلامي امارت به په لوړه کچه د سیاسي انزوا د مخنیوي په موخه د سیمې هېوادونو ته په ځانگړي ډول روسیې، چین او ایران ته نږدې شي. که څه هم اسلامي امارت د متوازن بهرني سیاست یادونه کوي، خو ښايي متوازن بهرنی سیاست د فشار راوړلو په شکل هم وکاروي. په دې معنا، له یوه لوري، که د امریکا متحده ایالات افغانستان له پامه وغورځوي، اسلامي امارت کېدای شي په لومړي گام کې چین او بیا روسیې او ایران ته ډېر نږدې شي، چې په دې سره به متحده ایالات وننگوي.

لکه څرنگه چې له دوهمې نړیوالې جگړې وروسته متحده ایالاتو گومان کاوه افغانستان ورته نور مهم نه دی، د وخت حاکمان د کمزوري اقتصاد له امله شوروي ته نږدې شول. په اوسنیو شرایطو کې، ښايي ورته تاریخ یو ځل بیا تکرار شي، چې په دې سره به افغانستان سیمې ته نور هم نږدې شي او ورته مهال د افغانستان اسلامي امارت متوازن بهرنی سیاست به هم زیانمن شي. له بل لوري، که متحده ایالات افغانستان له

پامه ونه غورځوي، اسلامي امارت به چین، روسیې او ایران ته په نږدېوالي کې ځانګړی بېلانس په پام کې ونیسي، چې د افغانستان متوازن بهرنی سیاست زیانمن نه شي. په دغسې حالت کې د سیمې په ځانګړي ډول د چین پانګونې به ډېرې د پام وړ نه وي.

د افغانستان اسلامي امارت، که څه هم تر دې دمه توانېدلی د سیمې سیالو قدرتونو ترمنځ توازن رامنځته کړي، خو تر پایه د دغه ډول بېلانس ساتل به ستونزمن وي، ځکه د نړیوالو له لوري په رسمیت نه پېژندنه، پر بهرنیو مرستو تکیه، د بهرني سیاست په دستګاه کې د مسلکي کادرونو کمښت او د هرې ورځې په تېرېدو سره د سیمې او نړۍ پېچلي شرایط، داسې په ډاګه کوي چې اسلامي امارت به د متوازن بهرني سیاست پر مخ وړلو کې له لوړو ژورو سره مخ شي.

### 10. وړاندیزونه

1. د افغانستان اسلامي امارت دې د اقتصاد محوره بهرني سیاست له لارې بهرنیو پانګونو ته چاپېریال برابر کړي، چې د هېواد اقتصاد په خپلو پښو ودرېږي او د بهرنیو مرستو له لارې د سیمې او نړیوالو قدرتونو سیاسي نفوذ ته زمینه برابره نه شي.

2. د افغانستان اسلامي امارت دې په بهرنیو اړیکو کې سیمه‌ییز توازن په جدي ډول په پام کې ونیسي.

3. د افغانستان اسلامي امارت دې د متوازن بهرني سیاست له لارې او همدارنګه په سیمه کې د چین له نفوذ څخه په ګټې اخیستنې، د افغانستان په اړه سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړي، چې د ناسالمو جیوپولیټیکو سیالیو مخه ونیول شي او مثبتو جیواکونومیکو سیالیو ته زمینه برابره شي.

4. په اوسنیو شرایطو کې که څه هم د ډیپلوماسۍ دستګاه کولای شي په لنډ او منځمهال کې د افغانستان ګټې خوندي کړي، خو په اوږدمهال کې اړتیا ده چې د افغانستان د بهرني سیاست اداره مسلکي شي.

5. د افغانستان اسلامي امارت دې د بین المللي ناستو له لارې په طبیعي زېرمو کې د پانګونې او د سیمه‌ییز اتصال په موخه د افغانستان ستراتیژیک موقعیت لپاره لابي وکړي، چې هم‌مهاله د دې دوو فکتورونو پر بنسټ د افغانستان راتلونکی بهرنی سیاست هم تنظیم شي.

**مأخذونه:**

۱- سحاب، محمد رضا. اطلس عمومی ایران وجهان (سیاسی، طبیعی، اقتصادی، مصور)، مؤسسه جغرافیایی و کارتوگرافی سحاب (تهران)، ۱۳۸۴ هـ.ل، ۱۷مخ.

2- Abdul Samad Ghaus, *The Fall of Afghanistan: An Insider's Account* (Oxford: Brassy's, 1988).

3- Amin Saikal, *Modern Afghanistan: A History of Struggle and Survival*, Published by I.B. Tauris, UK, 2004.

4- B.D. Hopkins. "*The Making of Modern Afghanistan*," Palgrave Macmillan, 2008.

5- Barnett R. Rubin, *Afghanistan: What Everyone Needs to Know*, Oxford University Press, 2020.

6- Francis P. Sempa. "*Geopolitics: From the Cold War to the 21st Century*," Transaction Publisher, USA, 2002.

7- George Adelman. "Where Did Asia Get Its Name?", MapQuest Travel, Access link: https://www.mapquest.com/travel/where-did-asia-get-its-name/

8- Ijaz Khan, "Afghanistan: A geopolitical study", *Central Asia Survey*, Vol. 17, No. 2, 1998. Access link: http://dx.doi.org/10.1080/02634939808401049

9- Imran Zakeria, From Republic to Emirate: Afghan Transformation and Afghanistan-China Relations, *China Quarterly of International Strategic Studies*, Vol. 9, No. 1, 2024. Access link: https://dx.doi.org/10.1142/S2377740024500106

10- Imran Zakeria, Reflections on Afghanistan's economic development: Is China the answer? *Melbourne Asia Review*, April 5, 2023. Access link: https://doi.org/10.37839/MAR2652-550X13.21

11- James Biser Whisker and Kevin R. Spiker. "*Theories of Geopolitics*", Nova Science Publishers, New York, USA, 2022.

12- Joshua Snider, Taliban 2.0 and US National Security Policy in Afghanistan, *Journal of Asian Security and International Affairs*, Vol. 9, Issue 3, 2022. Access link: https://doi.org/10.1177/23477970221129905

13- Kabir Taneja, How the current great-power competition helps the Taliban in Afghanistan, *ORF*, Mar 18, 2023. Access link:

https://www.orfonline.org/expert-speak/how-the-current-great-power-competition-helps-the-taliban-in-afghanistan

14- Keith McLachlan. “Afghanistan: The geopolitics of a buffer state”, *Geopolitics and International Boundaries*, Vol. 2, No. 1, 1997. Access link: http://dx.doi.org/10.1080/13629379708407579

15- Lopamudra Bandyopadhyay, The Taliban and Central Asia: Into the Vortex of Terrorism Beyond Afghanistan, *Jadavpur Journal of International Relations*, Vol. 14, Issue 1, 2020. Access link: https://doi.org/10.1177/0973598410110004

16- Ludwig W. Adamec, *Afghanistan, 1900-1923: A Diplomatic History*, University of California Press, Berkely and Los Angeles, USA, 1967.

17- Martin W. Lewis and KÃren E. Wigen. The Myth of Continents: A Critique of Meta geography, University of California Press, 1997.

18- Margaret Scott and Westenley Alcenat, Revisiting the Pivot: The Influence of Heartland Theory in Great Power Politics, Macalester College, May 9th, 2008, Access link: https://citeseerx.ist.psu.edu/document?repid=rep1&type=pdf&doi=073c8cb47e799b319be64c4786e7300e147815d8

19- Mark Gilchrist, The Great Game Reinvigorated: Geopolitics, Afghanistan, and the importance of Pakistan, The Strategy Bridge, August 12, 2019, Access link: https://thestrategybridge.org/the-bridge/2019/8/12/the-great-game-reinvigorated-geopolitics-afghanistan-and-the-importance-of-pakistan

20- Meredith L. Runion, *The History of Afghanistan*, Greenwood Press, 2007, USA.

21- Michael Greenfield Partem. “The Buffer System in International Relations”, *Journal of Conflict Resolution*, Vol. 27, No. 1, 1983. Access link: https://doi.org/10.1177/0022002783027001001

22- Muneeb Yousuf, India-Afghanistan Relations in Changing Regional Geopolitics, *South Asia Research*, Vol. 43, Issue. 3, 2023. Access link: https://doi.org/10.1177/02627280231190790

23- Muhammad Muzaffar, Erum Hanif and Imran Khan, “United States Foreign Policy towards South Asia: A Critical Analysis”, Pakistan Social Sciences Review Vol. 2, No. 2, December 2018,

Access link: https://www.researchgate.net/publication/342411504_United_States_Foreign_Policy_towards_South_Asia_A_Critical_Analysis

24- Russia's Multipronged Policy in Afghanistan, 30 Jan 2021. Access link: https://www.ipis.ir/en/subjectview/626367/russia%E2%80%99s-multipronged-policy-in-afghanistan

25- Saul Bernard Cohen, *Geopolitics: The Geography of International Relations*, Rowman and Littlefield Publishing, Third Edition, USA, 2015.

26- Soutik Biswas, Why India is reaching out to the Taliban now, *BBC*, 15/1/2025. Access link: https://www.bbc.com/news/articles/cp8ke9e27dxo

27- Srinjoy Bose and William Maley, *Contextualizing Afghanistan's transitions: Influences and challenges*, (Srinjoy Bose, Nishank Motwani and William Maley (eds), Afghanistan-Challenges and Prospects, Routledge, 2018.

28- Stuti Bhatnagar and Zahid Shahab Ahmed, Geopolitics of landlocked states in South Asia: a comparative analysis of Afghanistan and Nepal, *Australian Journal of International Affairs*, 2020. Access link: https://doi.org/10.1080/10357718.2020.1793896

29- Suradhuni Ghosh, Geo-strategic View of Mackinder and Spykeman, govt girls ekbalpur, Access link: https://www.govtgirlsekbalpur.com/Study_Materials/Geography/Geo-strategic_views.pdf

30- *The Indian Express*, Express view on India-Taliban talks: Delhi must not give core values, should underline concerns, 10 January, 2025. Access date: 15/1/2025. Access link: https://indianexpress.com/article/opinion/editorials/india-taliban-talks-9770589/

31- Vanda Felbab-Brown, Russia-Afghanistan relations in the aftermath of the Moscow attack, *Brookings*, March 28, 2024. Access link: https://www.brookings.edu/articles/russia-afghanistan-relations-in-the-aftermath-of-the-moscow-attack/

[3]2- Venu Gopal Narayanan. "'South Asia' Versus The 'Subcontinent': The Label Wars", SWARAJYA, July 8, 2021, Access link: https://swarajyamag.com/politics/south-asia-versus-the-subcontinent-the-label-wars

33- Waseem Ishaque, Aman Ullah and Fazal Noman, "United States Foreign Policy Towards South Asia; Analyzing Implications for Pakistan", Global Political Review, V(II), 2020. Access link: https://doi.org/10.31703/gpr.2020(V-III).03

[3]4- William H. Overholt, The Geopolitics of the Afghan War, *Asian Affairs*, Vol. 7, No. 4, 1980, Access link: http://www.jstor.org/stable/30171748?origin=JSTOR-pdf

[3]5- World in Maps, "Tartaria", 2025. Access link: https://worldinmaps.com/history/tartaria/

[3]6- Zahid Shahab Ahmed, et all, The Geopolitical Challenges of State Building in Post-War Afghanistan, *Australian Institute of International Affairs*, November 22, 2022. Access link: https://www.internationalaffairs.org.au/australianoutlook/the-geopolitical-challenges-of-state-building-in-post-war-afghanistan/

[3]7- Ziaulhaq Amiri and Sharifullah Habibyar. "A Descriptive Look at the Factors Influencing the Geopolitics of Afghanistan", *Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology*, Vol. 2, Issue 2, 2023. Access link: https://doi.org/10.55544/jrasb.2.2.26